# PRESS INFORMATION

THE EUROPEAN UNION DELEGATION TO AFGHANISTAN
THE EUROPEAN UNION SPECIAL REPRESENTATIVE IN AFGHANISTAN

## 2016 کال د افغانستان خبریالانو لپاره ټولو خونړۍ کال وه

*کابل، **19** جنوری **2017***

د افغانستان د خبریالانو د ساتنې د کمیټې شپږ میاشتنۍ راپور چې پرون خپور شو ښیي چې 2016 کال د افغانستان د خبریالانو او رسنیو لپاره تر ټولو خونړۍ کال وه. په دغه کال کې 13 خبریالان وژل شوي دي چې یوه بې ساري شمیره ده. خبریالان د بیلابیلو ډلو لخواه ګواښ سره مخامخ شوي دي خو د خبریالانو او رسنیو پر وړاندې د طالبانو د پالیسۍ بدلون د دغه تاوتریخوالي اصلي عامل پیژندل شوي دي.
رسنیو باندې د طالبانو قصدي بریدونه چې په شمیرو کې ښودل شوي دي ښیي چې د 13 وژل شوي خبریالانو له جملې څخه طالبان د لسو قضیو مسوول دي.

په افغانستان کې د اروپایي ټولنې ځانګړي استازي فرانز مایکل میلبن وایي: " د رسنیو آزادي د ډیموکراسۍ لپاره اړینه ده، منتقده رسنۍ دولت حساب ورکولو ته اړ باسي، ژوندتیا تامین کوي او د عامو افغانانو غږ پورته کوي. موږ په جګړه کې ټولو خواوې هڅوو ترڅو خبریالانو لپاره د امن او خوندي محیط د برابرولو په لاره کې خپلې پوره هڅې وکړي. "

د خبریالانو پر وړاندې د 101 مورد تاوتریخوالي قضیو له جملې څخه د افغانستان دولت چارواکي د 50.5 سلنې قضیو مسوول ګڼل شوي دي. طالبان د 22.8 سلنې قضیو مسوول دي او پاتې د تاوتریخوالي قضیو د نا پیژاندو کسانو او زورواکو لخواه ترسره شوي دي.

سفیر میلبن وایي: " دا چې دولت په دوامداره توګه د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي د یو شمیر زیاتو قضیو مسوول وي، د اندیښنې وړ دی. دولت باید د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي د عاملینو د محاکمې په موخه پوره هڅه وکړي. رسنیو باندې بریدونه باید ودرول شي. "

د لا ډیرو معلوماتو لپاره:


د اروپایي ټولنې پلاوی
د رسنیو سلاکار
عبدالله یادګاري
ټلیفوني شمېره: 548 173 700 (0) 93+
بریښنالیک: abdullah.yadgare@eeas.europa.eu

کیل اندرسن
د رسنیو او عامه اړیکې سلاکار
په افغانستان کې د اروپایي ټولنې ځانګړي استازي
شماره تماس: 449 701 794 (0) 93+
ایمیل: Kjeld.ANDERSEN@ext.eeas.europa.eu